استقلال خپلواکی
www.esteqlaal.net

پوهاند عبدالحی حبیبی ۰۱ جون، ۲۰۲٤

# اجتماعي موازنه

## انتخاب ارزشمند و آموزنده ای از آرشیف پشتوی پوهاند عبدالحی حبیبی



احترام د صفاتو د جامعې یو له بله سره اساس د هر راز پیشرفت او لوړتیا دی لکه افراد چې یو و بل ته سره اړ دي، طبقات او مختلفي ډلي د جامعې هم دغسي ائتلاف او یو راز والي ته اړتیا لري.

### د تکامل سیر:

انسانان لومړی وار غیر مدني او بېله لوازمو څخه د مدنیت په ساده او بسیط ډول دنیا ته راغلي دي. لکه چي ویل کیږي پخوا یې د حیواناتو پوستونه اغوسته، بیا په جوړېدو او رغېدو د کالو او نورو شیانو موفق سوه، دغسي هم انسانانو په مرتبو کي د مدنیت او تولولو د اسباب او لوازم د مدني حیات، ورخ په ورځ متدرجاً ترقي کړې او تاج د مدنیت یې پر سر ایښی دی ... دا ترقیات علمي او مدني د اجتماعي او فکري نهضتونه، دا سیاسي او اقتصادي انقلابونه، په ورو ورو

salamwatanam@gmail.com

انسانانو ته پېښ سوي او په لار کي د (سير تدريجي) د تكامل ورسره مخامخ سوي دي.
څو په قدرت د خالق متعال هغه ضعيف او بېچاره خوار انسان چي له ډېره عجز او بېچارگۍ به لڅ پڅ گرځېدی و دې اوسنۍ مرتبې ته د کمال او لوړتيا ورسېدی، چي د علم په قوت بېله وزره الوزي، تر اوبو لاندي د بحر په منځ کي د کب په څېر گرځي ...
لومړني انسانان خورا بېچاره وو، له دې خارق العاده اسباب او اوزارو څخه د مدنيت يې هيڅ نه درلود، په ډېر بسيط او ساده ژوندون کي يې عمر تېراوه ...
دا بېچاره انسان له هري خوا معروض د حملې د قوي دښمنانو او طبيعي جرياناتو و، سوړتيا او تودتيا د هوا، وجود د مضر او هولناك وحشي جانورانو، روزمره احتياجاتو د ژوندون، او مقتضياتو د محيط دوی و "اجتماع" او وجود ته د نورو شيانو مجبور کړه څو چي کشف د اور، مالگي، کالو، د ډېرو وسلو او لوښو وسو، او په ورو ورو دا ساده انسان و عصر ته د اوسپني (دور آهن) راووت، او ورځ په ورځ يې د قادر متعال په قدرت، فکر، عقل، ذهن، روښنايي او ترقي وموندله، په طرز حيات او دود او رسوم او اجتماعي شيوناتو کي نوي نوي انقلابونه او تطورات ورپېښ سوه.
دا راتگ او اوښتل له يوه حاله بل حال ته، يا دا پرمختگ او ترقي (ناموس د تكامل) له حالت د اوليت او بدويت و (مدنيت) ته ترقي کړې ده، او په هر دور او هره پېړۍ کي جلا جلا، او نوي نوي تطورات و فكر او اجتماعيات او دود ته د ژوندون د انسان پېښ سوي دي.
که په دقت او غور وگورو حالت د انسانانو د (۵۰۰ ، ۱۰۰ کاله حتی د ۲۰، ۳۰ کاله) هم دمخه داسي نه و، لکه اوس چي ليدل کيږي، فکر، رسم، دود، عادات، اطوار، کردار ټوله په يوه نوي رنگ مصبوغ سوي دي.
او کې د دې حاله قياس وکو، نو به وضعيت د آيته، لس، شل، سل کاله وروسته هم له اوسني کيفيت څخه په بل ډول وگرځي، و آينده اولاد ته به د خپلي زماني په فکرو او رسمو، او آدابو ککړ سي، چي دا تنوع او تجدد د "سير د تكامل" بلل کيږي.
اثر د تكامل پر جامعو او ملتو:
په هغه ډول لکه هلك چي کوچنی او ناقص او بې واکه له موره وزيږي او بيا په تدريج ورو ورو لويږي او عضا د جسم، اعصاب، هډونه يې پخيږي، او تكميل کيږي او بيا دورې د کوچيني، جوانۍ، شيخوخيت، طی کوي، جامعي او ملتونه هم تر دغسي نظام او دستور لاندي دورې د تكامل او ارتقاء تېروي، دورې د کوچينوالي (طفوليت) د ځوانۍ د ضعف او انحلال لري.
په مخوکي د تاريخ د دنيا که سترگي وغړوو، دا حقيقت چي هر ملت تر دې ټينگ نظام لاندي نشو و نما کړې ده ښه به راته ښکاره سي.

دا ژوندي ملتونه د مغرب چي نن يې په خپل خارق العاده ترقياتو دنيا ځان ته په حيرت کي اچولې ده دوی هم دا دورې د ابتدائ والي او طفوليت طي کړي دي، سل کاله دمخه نه دا مطنطن (مدنيت) و او نه دا دومره قوت او واك!

خلاصه : دا د تکامل سير چي دنيا او انسان په ژوندون کي ورته خاضع دي، په هر دور او هر عصر کي رسوم، دودونه، عادات، اخلاق، شيونات، اجتماعي، مادتيات او معنويات سنخ د فکر او تعقل د انسانانو له يوه حاله بل حال ته اړوي، او نوي افکار، نوي شئون، نوي اطوار او کردار، نوي دودونه په هر اولس حتی په هر ټبر او هر کلي او کورنی کي پيدا کوي، مثلاً:

که پنځوس کاله دمخه طرز د ګنډلو (دوخت) د کالو او اغوستلو يو راز و، اوس هغه قطعاً حتی په ليرو ليرو ګوښو کي هم نسته، که فرضاً څوك اوس هغسي کالي په هغه طرز سره اغوندي ټول خلك به د تعجب په سترګه ورته ګوري. دغه راز هم که درې سوه کاله پخوا، په غشي او لينديَ جنګ کېدی دوه سوه کال دمخه بيا هغه حالت نه دی پاته، په توره او سپر جنګ سوی دی.

يو قرن چي بل پر تېر سو، باروت، او اورنیَ وسله پيدا سوه، چمقانقی، او د اور ټك توريك راووتی، هغه هم اوس پاته نه سو، ۱۰، ۱۱ ډزي توپکانو آتش فشان توپونه، طيارې تحت البحر، زره پوش جنګي جهازونه، مهلك ګيسونه، خطرناك او مرګ بار ګوليَ ايجاد سوې هنوز لا هم فکر د بشر ورته متوجه دی، خدای زده چي څه څه به وسي، څه اسبابونه به په آينده کي ايجاد کړه سي؟

دا فقط يو مثال و چي ومو ليکلی، پر دغه يې قياس کئ، هر رسم او دود، هر عادت او خُلق دغسي تحولات او اوښته په مرور د زماني ميندلي دي ... او هره ورځ، هر ګړی هم دنيا دستخوش د داسي تحولاتو او تجدداتو ده او په سريع رفتار پر مخ ځي.

انسان هم په دې ډول ډول فکري او روحي، اجتماعي تطوراتو کي، ډېر نشيب او فراز، کښته، پورته ويني، او پر يوه حال نه پاتيږي، تجديد د اديانو، او شرايع چي په هر دور کي خالق لايزال نوي نوي پيغمبران سلام الله عليهم لپاره د هدايت د بشر رالېږلي دي هم له دغه سببه دی چي په مرور د دهور، اخلاق د بشر فاسديږي، او نوي تنوير، او مشعل د هدايت احتياج لري.

يو وخت و چي په مقتضا د هغه عصر او هغه محيط، آسماني هدايات د خالق اکبر له خوا لپاره د هدايت د بشر په (تورات، انجيل) کي راتله، او په هغه وخت هم هغه عالي او مقدس هدايات لپاره د هغه عصر د بشر کافي وه، اما بيا داسي وخت راغی چي هغه آسماني مقدس ارشادات ، وعد او وعيد لپاره د اصلاح د انسانانو په مکمل او بشپړ ډول په قرآن عظيم الشان کي نازل سوه، چي لپاره د اصلاح او سموالي او هدايت د اوسني بشر کافي دي. (اليوم اکملت لکم دينکم و اتممت عليکم نعمتی و رضيت لکم الاسلام دينا "الايه")

طبقه بندي د انسانانو په سير کي د تکامل:

دا مو وويل چي هر ملت او هره ډله د بشر د ژوندون په صحنه کي د ډول ډول تحولاتو او تطوراتو دستخوش دی، او دا هم ښکاره ده چي افکار او آراء هم سره متبائن او يو د بله سره مخالف دي، نو د تکامل په سير کي هم هغه وخت چي نوي دودونه، نوي چمونه، نوي صنعتونه، نوي تحولات، نوي خبري، نوي افکار په مقتضا د قدرت الهی منځ ته راسي، ځيني خلك وي چي دا تنوع او تجدد يې پر فکر برابر، او طرفداره يې وي ځيني خلك بيا هم وي چي په اتکاء او اصالت د تېر سوو مېړو او ګذشتګانو پر دودو د هغو ټينګ وي، او نه غواړي چي په يوه وار هغه خپل د پلار او نيکه خصايل او مميزات ورك کي، او پرې ئېږدي ... ! دا دوې طبقې چي فطرتاً په هره جامعه کي پيدا کيږي په اختلاف د اصطلاح متجدد، نوجوان، ترقي خواه، يا قديم، محافظه کار، قدامت پسند بلل کيږي، غالباً د دوی په منځ کي حزبي اختلاف يا بې ځايه او بې سببه هيجان او هياهو پورته کيږي.

چي دا اختلاف د حزبيت يا د فکر و هغو مملکتو ته چي تر اوسه لا هم په دوره کي د کوچنيوالي اومه دي مهلك عامل او سم قاتل دي.

دا بلا د اختلاف د تجدد او محافظه کارى، چي په هر مملکت کي ولوېږي هغه مملکت په يو شديد تزلزل او انحطاط کي اچوي. ولي چي په لار کي د نجات او حفظ د نواميس، هر ملت و يوه ملي او فکري وحدت ته اړ دی، په هغه ډول چي دا د "نوي او زاړه" د حزبيت او نفرت موجود وي نو "اتحاد فکري" هم ورکيږي، او جامعه يوه خطرناكه ښويندوکي پاڼ ته ارتاو وي. يا تر هغو چي دا فکري تزلزل او اختلاف ځني وزي په بلا د کور جنګی، او داخلي انقلابو به اخته وي لکه "انقلاب کبير فرانسه" يا نور مشهور انقلابونه د دنيا.

اعتدال يا اجتماعي موازنه:

توسط او اعتدال ذاتاً د حيات په ټولو چارو کي خورا ممدوح او ښه دی، دين، اخلاق، هرکيش او مسلك "اعتدال او توسط" ښه بولي، هره چاره او هر کار، د اعتدال تر اصولو لاندي په ښه ډول تر سره کيږي، او هر راز کاميابي او برى (ظفر) د اعتدال پر لار لاس ته راځي.

دا مو دمخه وويل چي تجدد د (نوي والي) يا تکامل (بشپړتيا) فطرتاً د انسان په ختّه اخښل سوی دی هره جامعه دا دورې د تکامل او لوړتيا، خامخا تېروي، (لکه دمخه چي مو ساده مثالونه د دغه په کالو، او وسلو کي وويل).

اما د دې تجدد او تکامل په سير کي اغلب کسان په بلا د "افراط يا تفريط" اخته کيږي، او يو کرغېړن او مشئوم "سوء تفاهم" د دوی تر منځ پيښيږي، لمړی ډله په مقتضا د طبيعت د ځلمي

توب او نوي والي، په خورا ژر ژر سريع تګ غواړي چي پر مخ ولاړ سي، او ترقي ومومي او د تکامل لار ژر په سوي ساه طي کي، اما منځوي ټولی بيا په خورا دقيق او ژور نظر يو جهان متانت او وقار، حزم او احتياط سره سينه ايجابات او تجددات د زماني استقبال کوي، دوی پر اصالت او نجابت د نيکه ګانو او مليت او موروثي اخلاق او دودو باندي اتکاء کوي، او غواړي چي سيوري د خپل تاريخي او ملي مزايا او افتخاراتو لار د تکامل طي کي چي هم ځان نه بايلي او هم له سياله سره سم سي.

اما دربيمه ډله چي تفريطی ده اکثراً له تعصب او بې ځايه ټينګار ځان په خورا کښته مرتبه کي اچوي، او له "عصري ترقياتو" څخه ځان سپموي، څو چي ضعيف او بې واکه سي، او په ميدان کي د (تنازع للحيات) ځان بايلي، د قومي ګوله سي نوم او نښان يې د مځکي له مخه ورك سي.

هر ملت او هره جامعه، او هر اصيل او نجيب قوم ځان ته يو څه مزايا لري، چي په هغه سره ښه ايسي، او په منځ کي د نورو انسانانو فقط هغه يو قوم امتياز په مومي، او پر اصالت او نجابت يې دلالت کوي، له ملي مميزاتو او مفاخرو څخه يې ګڼل کيږي.نو هر قوم او ملت چي غواړي له نوو ترقياتو څخه دي برخه واخلي، ښايي چي خپل اصالت او تاريخي نجابت ورك نه کي، او له عصري ترقياتو څخه هم محروم نه سي. که څه هم په تېرېدو د اوږدو زمانو کوم کرغېړن دودونه او بد خويونه په ملي اخلاقو او عاداتو او قومي مزايا د ملتو ګډيږي، او اغلباً بيا هغه بد او بابېز دودونه د ترقی د لاري سد لويږي اما زما په فکر خو په وخت کي د نهضت يا ارتقاء اصلاح او سمواله د هغو لازم ده نه ترك او پرېښوول د هغه! يعني موږ بايد "موږ" يو اما په داسي ډول چي تر نورو هم نه يو پاته له ځانه او خپل ملي نواميسو په ښه ډول دفاع کولای سو.

هر ملت چي لپاره د حفظ د خپل ديانت، او ملي پاك رسوم، دودونو، اخلاقو، د نوي عصر نوي اسباب او لوازم تهيه کي، چي خپل "مليت" او موروثي د پلار او نيکه ورپاته سوي اصالت او نجابت يې په وساتل سي دا نو مسلك د "اعتدال" دی.

اما افراطيون چي په سريع رفتار او سوي ساه پر مخ ځي، او په لار کي د تکامل او عصري ترقياتو دين، او زاړه موروثي مزايا، اخلاق، قومي دودونه، لباس، ژبه، حائل بولي يا دين او علم[١] يو د بله مخالف او ضد ګڼي، او وايي په هغه ډول چي ملل حيه او متمد نه، دې درجې ته د لوړتيا را رسېدلي دي موږ هم ښايي هغسي او پر هغه لار ور ورسيږو نو د دوی مثال داسي دی لکه سړی چي وغواړي يو ټوکر مځکه وکري اما ټوله خپل وخت په ترتيباتو کي د اوبو راوستو تېر کي، لومړی د ولې پر غاړه ګلان شنه کي د ولې په ترتياباتو کي ساعي وي، اما هغه وخت چي دی له دې ترتيبات او تزئيناتو څخه فارغ کيږي او اوبه تر اصلي زراعتي مځکي رارسوي د کرهني وخت ځني تېر او له ګټي څخه محروم پاته سي.

نو زراعت او کرهنه داسي ده لکه ساتنه د ملي نواميس، او مليت او قوميت. واله جوړول داسي دی لکه تهيه د عصري لوازمو، نوو اسبابو، وسلو کارخانو، فابريکو ! چي دا وروستني شيان و حفظ او ساتني ته د هغو لمړني شيانو ذريعه او وسيله دي، په خپله دغه اوزار او اسباب مقصود بالذات نه دي. که څوك په مرحله کي د تهيه او ټولولو د اسباب او لوازم ځان په بل رنګ مصبوغ، او ملي رنګ ورك کي، يعني ځان پکښي بايلي، نو له دې زيار څه فايده له دې سعی څه حاصل ؟ يعني مطلب له دې زيار او زحمته چي عموماً په مشرق کي بله لار د ترقۍ خيژي او هر راز لوڅي پوڅي کيږي دا نه دی چي لکه اروپايي ډول په هغه اخلاق، عادات، اطوار، کردار په آسيا کي تشکيل او جوړ سي، بلکي مطلب دا دی چي په ملي مزايا او مفاخرو ښايسته په قومي دودو او رسومو مفتخر، په عصري تجهيزاتو مجهز، يعني په ټولو معناوو قوي، غښتلی متخلق په قوي او ملي اخلاقو مصبوغ په خپله ديني او ملي صيغه ملتونه او دولتونه پاته سي.

ساتنه د "اجتماعي موازنې" يعني (تګ پر جاده د اعتدال) و ټولو هغه ابتدايي ملتو ته چي نوي پر لار د تکامل رهي سوي وي، لمړنی فريضه او وظيفه ده. يعني له يوې خوا ښايي چي طرفداران د تجدد او تکامل و خپلو محافظه کارو ورڼو ته په نظر د احترام وګوري او له بلي خوا هم طرفدار او ساتونکي د خپل قومي او ملي زړو مزاياوو خپلي ملي ځلمي زامن او ورڼو ته په نظر د شفقت ووينې ولي؟

له دې جهته چي بار د حفظ د موجوديت او ساتني د استقلال او مليت د دواړو پر اوږو دی که يوه ډله اوږه ځني خالي کي دواړو ته تاوان رسيږي د دواړو ټوليو شيون او مفاخر پامال کيږي نو په هغه اندازه چي لپاره د تګ پر جاده د تکامل وجود د ترقۍ خواهانو په يوه جامعه کي لازم دی هم په هغه ټکانه وجود د محافظه کارانو ضرور دی ولي چي دا دواړه ډلي (اجتماعي موازنه) ساتي، او وجود د دواړو په جامعه کي غنيمت دی.

ای زاهدان بباده فروشان چـــــرا بديد؟

ما هم غنيمتيم و شما هم غـنيمتيد!

يو له مشهورو حکماوو څخه د انګليس په دې مسئله کي ډېر ښه واضح مثال ليکي : جامعه داسي ده لکه يو بېړۍ چي يو بادوان او بل کښتۍ وان ورته لازم دی.

نو ترقيخواهان او طرفداران د تجدد داسي دي لکه بادوان چي کښتۍ ژر پر مخ بيايي، اما محافظه کاران بيا لکه کښتۍ وان په خورا دقت ورته ګوري چي په خطر کي د ګرداب د هلاك ونه لوېږي او ډوبه نه سي، نو جامعه هم هيڅ کله بې له "موازنۀ متقابله" څخه د دې دوو قوتو نجات نه سي ميندلای، نو له دې جهته د هر ملت لپاره چي نجات، سعادت، ارتقاء غواړي يا له سيالانو سره ځان سموي په دې زمانه کي ژوندون تر "اجتماعي موازنه" لاندي لازم دی.

salamwatanam@gmail.com

ولي چي هر راز خرابی او تاوانونه له اختلاله د دغه پېښېږي، مشران او پوهان د قوم ښايي چي مېزان د (اعتدال) له لاسه ور نه کي، او تر دې سمي لاري قدم وا نه ږوي، ولي چي ټوله اسرار د تقدم او سعادت او آسایش د انسانانو په "احترام متقابل" کي د طبقاتو د جامعې پراته او پټ دي.

دا وه مختصر د نظرياتو زموږ په دې اجتماعي مهم بحث کي[۲].

لمن ليکونه:

۱ .د (علم او دین) معرکه او مجادله یو اوږد علمي بحث دی، چي ډیرو فلاسفه او لوړو مفکرینو د بشریت یې په تطبیق کي زیار کښلی دی، اما (قاسم امین) یوه معروف اجتماعي نګارنده د مصر په دې ساده منطق سره د علم او دین تطبیق کړی دی : "د علم وظیفه بحث او تمحیص دی په "حقایق ثابته او مؤسسه" کي چي له دې بحث څخه بیا په حقایق د بعضی مجهولاتو هم تفکر کیږي ځکه چي "دین" یو له "حقایق ثابته" څخه دی، نو لمړی وظیفه د علم هم نظر او تدقیق او تحقیق د (دین) دي.

۲ .طلوع افغان، د یوولسم کال لومړی ګڼه ۱۳۱۲ ل کال _ ۴۳ مخ

پای